# بیمارۍ فضیلتونه

پښتو



مرض په حالت کښې د صحت والا نیکو ثواب

تولو نه زیات د مرګ یاد راوستلو والا

بیماریدو نه بغیر مرګ

فِرعون د خُدائۍ د دعوې کولو یوه

وجه تکلیفونه ګناهونه رَژَوي

پیشکش:

مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوت اسلامی)

ترجمه:

ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ،
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د بيمارئ فضيلتونه

## د دُرُود شريف فضيلت

د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان: چاته چې څه سخته پيښه شي نو هغه له په ما باندې زيات دُرُود لوستل پكار دي، ځكه چې په ما باندې دُرُود لوستل مصيبتونه او بلاګاني لرې كوي-

(القول البديع، ص 414، حديث: 45)

دُکھوں نے تم کو جو گھیرا ہے تو دُرود پڑھو　　جو حاضری کی تمنا ہے تو دُرود پڑھو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مرض په حالت كښې د صحت والا نيكو ثواب

صحابي رسول حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: زه د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت كښې حاضر ووم چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُسكي شول، مونږه عرض اوكړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو په څه وجه مُسكا اوكړه؟ ارشاد ئي اوفرمائيلو: د مومن بنده د پاره خومره عجيبه

خبره ده چې هغه په خپله بيمارئ کښې ژاړي که چرې هغه ته پته اولګي چې د هغه د پاره د دې بيمارئ په بدله کښې څه دي (يعني څومره اجر او ثواب) دے نو هغه به خوښوي چې هغه هم بيمار پاتې شي تر دې پورې چې د خپل رَبّ سره ميلاؤ شي- بيا هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيا مُسکي شول او خپل سر [مبارک] ئې د آسمان طرف ته اوچت کړلو مونږه عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! تاسو په څه وجه مُسکي شوئ او خپل سر مبارک مو ولې د آسمان طرف ته اوچت کړلو؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: ما دوه فرښتې اوليدلې کومې چې د آسمان نه راکوزې شوې او د مومن بنده د پاره ئې د هغه د لمونځ کولو په ځائے لټولو شروع اوکړه، چې هغه ئې اونه موندلو نو د الله پاک په بارګاه کښې حاضرې شوې او عرض ئې اوکړو: يا الله پاکه! مونږه به ستا د فلانکي بنده د ورځې او شپې فلانکي فلانکي نيک عملونه ليکل، اوس مونږه هغه ستا په قيد (يعني بيمارئ) کښې بياموندو ځکه مونږه د هغه هيڅ نيک عملونه اونه ليکل- الله پاک ارشاد اوفرمائيلو: زما د بنده هغه ټول نيک عملونه اوليکئ کوم چې به هغه په ورځ او شپه کښې کول او په هغې کښې هيڅ هم مه کموئ تر څو پورې چې هغه زما په قيد کښې دے-

(موسوعة لابن ابى الدنيا، 244/4، حديث: 75ـ معجم اوسط، 11/2، حديث: 2317)

حضرت علّامه عبدُ الرؤف مناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شرح کښې ليکي: الله پاک چې کله يو بنده بيمار کړي نو د هغې په وجه هغه د

ګناهونو د ګند نه پاکوي او د صبر کوونکو ثواب ورله ورکوي، کله چې هغه بنده په پلِ صراط باندې تيرېږي نو د دوزخ اور به هغه نه سوزوي ځکه چې هغه به د وړاندې نه د ګناهونو د ګند نه پاک او صفا شوے وي بيا به هغه جنّت ته لاړ شي نو هغه به د صبر کوونکو په درجو باندې اوچت کړے شي او که چرې هغه په دنيا کښې د ګناهونو د ګند نه پاک او صفا شوے نه وي نو کله چې د قيامت په ورځ راځي نو د دوزخ اور به د هغه انتظار کوي ځکه به هغه د پل صراط نه ناڅاپه اوچت کړے شي د پاره د دې چې د هغه نه د ګناهونو ګند لرې کړے شي، ځکه چې د ګناهونو وغيره د ګند نه پاک او صفا خلق د نيکو د کور او د الله پاک د ګاؤنډ (يعني د جنّت) لائق دي-

(فيض القدير، 402/4، حديث: 5388)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دې روايت نه روغو خلقو له ترغيب حاصلول پکار دي چې هغوئي دې د روغتيا په حالت کښې د زياتو نه د زياتو نيکو عملونو کولو عادت جوړ کړي، د فرض لمونځونو سره سره نفلونه هم ډير کوي، په ولاړه، په ناسته په ګرځيدو ذِکر کوي او دُرود پاک لولي، د فرض روژو سره سره د نفلي روژو عادت هم جوړ کړي- الغرض چې د روغتيا په حالت کښې بنه ډيرې نيکۍ کوي نو د بيمارۍ په ورځو کښې به د الله پاک په رحمت سره د هاغه نيکو ثواب هم ميلاؤيږي د کومو چې ئې د روغتيا په حالت کښې عادت وو خو اوس

ئي د بيمارئ په وجه نشي كولے- اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه څه ښكلي ليكلي:

وہ تو نہایت سستا سودا بیچ رہے ہیں جنت کا
ہم مُفلس کیا مول چکائیں اپنا ہاتھ ہی خالی ہے

(حدائقِ بخشش، ص 187)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د الله پاک په زمکه كښې كوړا

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! جسماني بيماري د مومن بنده په حق كښې اكثر رحمت دے په دې سره د هغه ګناه معاف كيږي او درجې ئي اوچتيږي- په ډيرو حديثونو مباركو كښې د بيمارئ فضيلتونه بيان كړے شوي دي- انبيائے كِرام عَلَيۡهِمُ السَّلَام د ګناهونو نه معصومه وي، د الله پاک د دې نيكانو بنده ګانو يعني انبيائے كرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام، صحابهٔ كرامو عليهمُ الرِّضوَان او د اوليائے كرامو رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهِم په خِدمتونو كښې د مرضونو (يعني د بيمارو) حاضري د هغوئي د درجو د اوچتيدو په وجه وي او د دې نيكانو بنده ګانو په مرضونو باندې د صبر كولو واقعات زمونږه د ګنهګارانو د پاره د ترغيب وجه وي-

د الله پاک محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: اَلۡمَرَضُ سَوۡطُ اللهِ فِي الۡاَرۡضِ يُؤَدِّبُ بِهٖ عِبَادَهٗ يعني بيماري د الله پاک په زمكه كښې كوړا ده د كومې په ذريعه چې هغه د خپلو بنده ګانو اِصلاح فرمائي-

(جامع صغير، ص550، حديث:9194)

حضرت علّامه عبدُ الرؤف مُناوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شرح کښې ليکي: د بيمارۍ په وجه د نفسِ اَمَّاره اور مړ کيږي او دا د نفس د خواهشونو خوند ختموي- چا چې دا خبره (يعني بيماري په زمکه کښې د الله پاک کوړا ده د کومې په ذريعه چې هغه د خپلو بنده ګانو اِصلاح فرمائي-) ياد اوساتله د هغه د پاره د الله پاک په رضا باندې د رضا کيدو دروازه برسيره شي-

(فيض القدير، 346/6، تحت الحديث: 9194)

## ثومره چې خوندونه زيات هغه همره سختې زياتې

اے عاشقانِ رَسُول! که خوشحالي وي او کـم غم، که بيماري وي او که روغتيا، مونږ ته په هر حال کښې د الله پاک په رضا باندې رضا کيدل پکـار دي او د صبر د ذهِن جوړولو د پاره دا سوچ کول پکـار دي چې د دُنيا په دې مصيبت کښې د اخته کيدو سره په آخِرت کښې ميلاؤيدونکـې سزا اوس په دُنيا کښې راکړے کيږي نو په الله پاک مې دې قسم وي! چې ډير په آسانه بچ کيږو، ځکه چې د آخِرت عذاب ثوک هم نشي برداشت کولے او آؤ! د خوشحالۍ او مالدارۍ په حالت کښې د الله پاک نه ويريدل پکـار دي چې چرته په آخِرت کښې د ميلاؤيدونکـو نعمتونو بدله خو په دُنيا کښې نه ميلاؤيږي؟ د قِسما قِسم خوندورو خوراکونو کوونکـو، د غټو غټو ماڼړو جوړوونکـو او ښه په عيش ژوند تيرونکـو له ډير زيات ويريدل پکـار دي چې په

”منهاجُ العابدین“ کښې دي: ”د مرګ سختي د ژوند د خوندونو مطابق وي“ نو د چا چې دا خوندونه زیات وي نو د هغوئ به هغه سختي هم زیاتي وي۔

(منهاج العابدین، ص 84)

## د کامل مومن شان

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! یقیناً مونږه دا فیصله نشو کولے چې څوک کله هم بیمار یا پریشانه نه شي هغه د اللّٰه پاک خوښ نه دے یا د چا سره چې د دنیا ډیر نعمتونه دي هغه ته به د آخِرت د نعمتونو نه حصه نه میلاؤیږي۔ مونږ له صِرف په خپله باره کښې غور او فِکر کول پکار دي او د خپل آخِرت د ښه کولو، د رحمان او رحیم رَبّ او د هغه د خوږ خوږ رسولِ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رضا کولو کوششونه کول پکار دي بس چې په څه طریقه زمونږه خوږ رَبّ زمونږ نه د همیشه همیشه د پاره رضا شي۔ په هر حال کښې د اللّٰه پاک په اطاعت او فرمانبردارئ کښې مصروفه کیدل د مومن شان دے۔ د کامل مومن د پاره د هغه په هره معامله کښې د غور او فِکر او عبرت بے شمیره اړخونه دي، په دې کښې د غور او فِکر کولو سره هره لحظه د ګناهونو نه په مکمله توګه باندې د بچ کیدو کوشش کول پکار دي۔

اللّٰه پاک په 21 سیپاره، سورۃ الروم، آیت نمبر 36 کښې ارشاد فرمائي:

وَاِذَاۤ اَذَقْنَا النَّاسَ رَحْمَةً فَرِحُوْا بِهَاؕ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَیِّئَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ اَیْدِیْهِمْ اِذَا هُمْ یَقْنَطُوْنَ۝۳۶

ترجمهٔ کنزُ العرفان: او کله چې مونږه خلقو له د رحمت خوند ورکوؤ نو په هغې باندې خوشحاليږي او که چرې هغوئ ته د هغوئ په لاسونو د وړاندې راليږلے شوؤ عملونو په وجه څه بد اورسيږي نو هغه وخت هغوئ نا اُميده کيږي۔

د دې آيت په تفسير کښې په ”صراط الجنان“ کښې دي: يعني کله چې مونږه، خلقو ته د روغتيا او د رزق د فراختيا خوند ورکړو نو هغوئ په دې باندې خوشحاله شي او په دې وجه تکبر شروع کړي او که چرې هغوئ ته د هغوئ په نافرمانئ او د ګناهونو په وجه څه بد اورسيږي نو هغه وخت هغوئ د الله پاک د رحمت نه نا اُميده کيږي او دا خبره د مومن د شان نه خلاف ده ځکه چې د مومن حال دا دے چې کله هغه ته نعمت ميلاؤيږي نو شُکر ادا کوي او که چرې هغه ته سخته پيښه شي نو د الله پاک د رحمت اُميدوار اوسيږي۔

(تفسير صراط الجنان، پ 21، الروم، تحت الآية: 36، 448/7 ملخصاً)

جو چاہے جمیلِ رضوی کو تُو عطا کر
مختار ہے تُو اور وہ راضی برضا ہے

(قبالۀ بخشش، ص 333)

## زما وروره! صبر اوکړه

د غم ځپلو غم لرې کوونکي آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو ځل د يو اَنصاري

صحابي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د تپوس د پاره تشريف يوړلو او هغوئي ته ئې ارشاد اوفرمائيلو: ستا د کله نه تَبه ده؟ عرض ئې اوکړو: يا نبيَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د اووه شپو نه، ارشاد ئې اوفرمائيلو: د بيمارو وخت د خطاګانو وخت وړي او اوئې فرمائيل: اے زما وروره! صبر اوکړه، ته به د خپلو ګناهونو نه داسې راوځې لکه څنګه چې په دې کښې داخل شوے وې۔

(شعب الايمان، 181/7، حديث: 9925۔ فيض القدير، 106/4، تحت الحديث: 4619)

يہ تِرا جسم جو بيمار ہے تشويش نہ کر
يہ مَرَض تيرے گناہوں کو مٹا جاتا ہے

(وسائلِ بخشش، ص 432)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مومن او د منافق د بيمارئ فرق

زمونږ د ټولو خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: بے شکه مومِن چې کله بيمار شي او بيا الله پاک هغه له د هغه بيمارئ نه شِفا ورکړي نو دا بيماري د هغه د زړو ګناهونو کفاره شي او د بيا د پاره نصيحت شي او منافِق چې کله بيمار شي او بيا ښه شي نو د هغه مثال د هغه اوښ په شان دے کوم چې د هغه مالک تړلے وي بيا ئې پرانستلے وي کوم ته چې دا معلومه نه وي چې ولې اوتړلے شو او ولې پرانستلے شو۔ په خلقو کښې يو کَس عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دا بيمارئ څه وي؟ په الله پاک

مې دې قسم وي! زه خو چرې هم نه يم بيمار شوے- ارشاد ئې اوفرمائيلو: زمونږ نه لرې شه، ته زمونږ نه نه ئې- (يعني زمونږه په طريقه نه ئې)

(ابو داؤد، 245/3، حديث: 3089)

د قرآنِ كريم مشهور مفسرِ، حكيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک په شرح كښې ليكي: مومن په بيمارئ كښې د خپلو ګناهونو نه توبه كوي، هغه ګڼړي چې دا بيماري زما د څه ګناه په وجه باندې راغله او كيدے شي چې دا آخِري بيماري وي د كومې نه پس چې به مرګ راشي، دې د پاره د هغه د شِفا سره سره بخښنه هم نصيب كيږي- (خو) منافق غافله دا ګڼړي چې په فلانكئ وجه زه بيمار شوے ووم او په فلانكئ دوائيئ باندې زه ښه شوم په اَسبابو كښې داسې انختے وي چې د مُسَبِّبُ الْاَسباب (يعني د الله پاک) طرف ته هډو ګوري نه، نه توبه كوي نه په خپلو ګناهونو باندې غور كوي-

دا كس (كوم چې اووئيل: زه خو چرې هم بيمار شوے نه يم) منافق وو د چا چې په كُفر باندې مړه كيدل د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په عِلم كښې وو دې د پاره په دومره سختئ سره هغه ته جواب وركړے شو- په بعضې روايتونو كښې دي چې په دې موقع باندې (حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ) دا هم اوفرمائيل: كه چرې څوک دوزخي ليدل غواړي هغوئي دې ده ته اوګوري- ګڼي نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو سراسر اخلاق دې، صِرف په بيمارئ به

ئي دومره سختي نه فرمائيله- د دې نه دا معلومه شوه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته رَبّ د خلقو د ښه او بد انجام خبر ورکړے دے-

(مرأة المناجيح، 424،423/2 ملتقطا)

امام شرفُ الدين حسين بن محمد طيبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کله چې مومن بنده بيمار شي او بيا روغ شي نو هوښيار شي او په دې پوهه شي چې د هغه بيماري د هغه د تيرو ګناهونو د لرې کولو په وجه وه ځکه هغه پښيمانه شي او بيا د پاره د ګناهونو په لور نه ځي لکه څنګه چې مخکښې د هغه نه ګناهونه شوي وو، ځکه دا بيماري د هغه د مخکښينو ګناهونو کفاره شي-

(شرح الطيبي على المشكاة المصابيح، 326/3، حديث: 1571)

## بيماري رحمت دے

حضرت سَهل بن عبد الله تُستري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ”جسماني بيماري رحمت دے ولې د زړه بيماري سزا ده-“

(احياء العلوم، 356/4)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! جسماني بيمارياني رحمت دے او د ګناهونو بيماري هلاکت دے- يقين اوکړئ! فلمونه ډرامې کتل، سندرې باجې اوريدل، د رشوتونو لين دين کول، په سود او په حرامو ذريعو مال ګټل يا د حرامو لمړئ خوړل داسې بد ترينه بيماري ده کومه چې د کينسر او نورو

ژوند اخستونکو بیمارو نه څو چنده خطرناکه ده، ځکه چې جسماني بیماري به زیات نه زیات ژوند واخلي ولې د ګناهونو د بیمارۍ سره ایمان بربادیدے شي او د سر نه واخله تر خپو پورې په جسماني بیمارو کښې اخته ګس د کُفر په بیمارۍ کښې د اخته شوي ګس نه ډیر کم په نقصان کښې دے، ځکه چې د کُفر په حالت کښې د مړ کیدو په شکل کښې به د همیشه همیشه د پاره د دوزخ عذاب ته مخامخ کیدل وي کوم چې د برداشت کولو قابل نه دے-

هر هغه تکلیف ورکوونکے څیز د کوم چې خیال اوکړے شي د هغه (یعني د الله پاک) د بے انتها عذاب یوه ادنیٰ (یعني معمولي) حصه ده- مثلاً په څه آله باندې د یو ژوندي انسان نه نوکان ویستل، څوک په چاقوانو او لختو باندې وهل، په چا باندې ډیر وزن لرونکے ګاډے د پاسه ورخیژول او د هغه هډوکي چوري کول، څوک د سر د ویښتو نه نیول او د هغه برسیره خُله د ټوپک په ګولو باندې ویشتل، اندامونه ئې کټ کول او په هغې باندې مالګه مرچکے دوړول، د ژوندي ګس نه څرمن ویستل، بغیر د بے هوشه کولو نه آپریشن کول، یا د مختلفو بیمارو تکلیفونه مثلاً د سر درد، تَبه، د ګیډې درد یا خطرناکې بیمارۍ مثلاً د زړه دوره (هارټ اټیک)، کینسر، د ګُردې د کانړي درد، خارښ، سخته ویره وغیره وغیره چې د دنیا د کومو مرضونو او مصیبتونو تصور هم ممکن وي هغه د دوزخ د تکلیفونو په مقابله کښې هیڅ هم نه دے- فرض کړئ که چرې د دنیا

ټولې بیمارۍ او مصیبتونه په یو ګس باندې راجمع شي بیا هم د دوزخ د ټولو نه د وړوکي عذاب برابر نه شي کیدے۔

(فیضانِ نماز، ص 454)

مونږ د الله پاک په بارګاه کښې دُعا کوؤ چې هغه مونږه د یوې لحظې د کروړونو حصې د پاره هم د کُفر په بیمارۍ کښې اخته نه کړي بلکه مونږه د ګناهونو د بیمارۍ نه هم محفوظ کړي، ځکه چې ګناه د کُفر قاصد دے۔ نَسْئَلُ اللهَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ یعني مونږ د الله پاک نه د معافۍ او عافیت سوال کوؤ۔

ہر گُنہ سے بچا مجھ کو مولیٰ
نیک خصلت بنا مجھ کو مولیٰ
تجھ کو رَمضان کا واسطہ ہے
یا خدا تجھ سے میری دُعا ہے

(وسائلِ بخشش، ص 135)

## د بیماریدو نه بغیر مرګ

د الله پاک د خوږ خوږ آخِري نبي، مکي مدني، محمدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په زمانه (یعني ظاهري ژوند مبارک) کښې یو صاحب وفات شو نو چا اووئیل: د هغه دې مبارک شي چې هغه په څه مرض کښې د اخته کیدو نه بغیر وفات شو نو نبيِ کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې (دا واوریدل) ارشاد ئې اوفرمائیلو: په تا باندې افسوس، تاته څه پته ده که چرې الله پاک هغه د مرض ښکار کړے وے نو د دې په سبب به ئې د هغه ګناهونه ختم کړي وو۔

(موطا امام مالک، 430/2،حدیث: 1801)

په ”مِرآۃ “ کښې دي: دې قائل (يعني دې مبارکۍ ورکولو والا) ګنړل چې بيمارياني د رَبّ له خوا ګيرول دي او روغتيا د هغه رحمت، ځکه ئې د مبارکۍ په طور دا عرض اوکړو، په دې خيال باندې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خفګان اظهار اوکړو او اوئې فرمائيل: يعني د مومن بيماري خاص طور د مرګ بيماري (يعني هغه مرض په کوم کښې چې انسان مړ شي، هغه) هم د الله پاک رحمت دے چې د دې په برکت سره الله پاک ګناه معاف کوي- ورسره بنده توبه وغيره کړي او پاک او صفا شي، ځکه په بيمارۍ کښې مړه کيدل بهتر دي-

(مرآۃ المناجيح، 428/2)

په حديثِ پاک کښې دي: بے شکه الله پاک خپل مومن بنده بيمار کړي تر دې پورې چې د هغه ټول ګناهونه ختم کړي-

(شعب الايمان،166/7، حديث:9863)

## بيماري ګناهونه ختموي

مکي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: سَاعَاتُ الْاَذٰى يُذْهِبْنَ سَاعَاتِ الْخَطَايَا يعني د مصيبتونو او بيمارو وخت د بنده د خطاګانو کفاره جوړه شي- (شعب الايمان، 181/7، حديث:9926) په يو بَل روايت کښې دي: د بيمارو، غمونو وخت په آخِرت کښې د تکليف وخت لرې کوي- (يعني په دنيا کښې چې انسان ته کوم مصيبتونه او تکليفونه رَسي هغه به د آخِرت د وحشت او د تکليفونو د حالاتو نه د خلاصي وجه جوړه شي)

(فيض القدير، 106/4، تحت الحديث: 4617)

# د بيمارئ فضيلت

په شَرحُ الزُّرقاني کښې دي: د ګناهونو نه د معصومه (يعني د انبيائے کرامو عَلَيْهِ السَّلَام) نه علاوه د خلقو په ګناهونو کښې د اخته کيدو نه د بچ کيدو امکان ډير کم دے ځکه د هغوئي بيماري د هغوئي ګناهونه ختموونکې ده يا د هغوئي د درجو اوچتوونکې ده او د نفس جوش ماتوونکې ده۔

(شرح الزرقانی على الموطا، 441/4،حديث:1817)

امام غزالي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: بيماري چې کله د ګناهونو د سورلئ او د الله پاک د نافرمانئ په مخکښې خنډ جوړ شي نو د دي نه به بَلَه ښه خبره څه وي۔

(احياء العلوم، 357/4)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيمارئ د فضيلتونو د لوستلو يا د اوريدلو سره د بيمارئ د آرمان کولو په ځائے د خپل رَبِّ کريم نه د عافيت سوال کول پکار دي، ځکه چې مونږه د الله پاک ډير کمزوري بنده ګان يو۔ ځکه مونږ د الله پاک نه په دُنيا کښې هم عافيت، د مرګ په وخت هم عافيت، په قبر او حشر کښې هم عافيت او بس هم د عافيت سوال کوؤ۔

عَطا کر عافيت تو نَزع و قَبر و حَشر ميں يارب  
وسيله فاطِمه زَهرا کا کر لطف و کرم مولىٰ

(وسائلِ بخشش، ص 98)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ټولو نه زيات د مرګ ياد په کوم څيز سره راځي؟

په بيماريدو باندې د الله پاک د ويرې نه د خپلو ګناهونو معافي هم غوښتل پکار ده، ځکه چې کله نا کله بيماري د دنيا نه د تللو وجه هم جوړيږي، هره ورځ د زرګونو مريضانو د وفات کيدو خبرونه راځي- حضرت شيخ ابو طالب مَکّي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: مريض له پکار دي چې د مرض په حالت کښې توبه کوي، په خپلو ګناهونو باندې د خفګان اظهار کوي، ډير زيات اِستِغفار کوي، د الله پاک ذِکر کوي، اُمِّيدونه کم کړي او مرګ ډير زيات ياد کړي- نور فرمائي: د ټولو نه زيات چې کوم څيز مرګ رايادوي او د کومو په راتلو چې د مرګ طمع کيږي هغه "مرضونه" دي-

(قوت القلوب (مترجم) ، 704/2 ملتقطا)

## که چرې د يو ځل نه پس په دويم ځل بيمار شي او توبه نکړي نو بيا---

په حديثِ پاک کښې دي کله چې بنده دوه ځله بيمار شي او توبه اونکړي نو ملک الموت عَلَيۡهِ السَّلَام (يعني روح اخستونکې فرښته) هغه ته فرمائي: "اے غافِله انسانه! زما د طرف نه تاته د يو نه پس بَل قاصِد راغلے خو تا هيڅ جواب رانکړو-"

(احياء العلوم، 358/4)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د وړي پاتې کيدو وجه

د حضرت بايزيد بِسطامي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه په خِدمت کښې عرض اوکړے شو: تاسو په وړي پاتې کيدو دومره زور ولې راوړئ؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: که چرې فرعون وږے وے نو چرې به ئې هم د خدائيئ دعوىٰ نه کوله او که چرې قارون وږے وے نو کله به ئې هم سرکشي او نافرماني نه کوله-

(کشف المحجوب، ص 390)

## د فرعون جواب هغه ته مخامخ

په "تفسيرِ صاوي" کښې يوه ايمان تازه کوونکې واقعه ده کله چې فرعون د سلطنت په تخت باندې ناست وو او د خدائيئ دعوىٰ به ئې کوله نو يو ځل حضرت جبرائيل عَلَيۡهِ السَّلَام د انسان په شکل کښې د هغه خوا له تشريف راوړلو او پوښتنه ئې ترې اوکړه بادشاه د هاغه غلام په باره کښې څه وائې کوم چې د خپل مولىٰ په ورکړے شوي مال او د هغه په نعمتونو غټ شو او بيا ئې د خپل مولىٰ ناشُکري اوکړه او د هغه د حقونو نه ئې انکار اوکړو او ځپله ئې د خدائيئ دعوىٰ اوکړه نو فرعون د دې جواب دا اوليکو چې "داسې غلام کوم چې د خپل مولىٰ ناشُکري اوکړه او د خپل مولىٰ نافرمانه شو د هغه سزا دا ده چې هغه په درياب کښې غرق کړے شي" هم دغسې چې کله فرعون د خپلو ملګرو سره په حضرت موسىٰ کليم الله عَلَيۡهِ السَّلَام پسې د درياب مينځ ته اورسيدو او

دریاب په خپل مینځ کښې میلاؤ شو نو د فرعون د ډوبیدو په وخت حضرت جبرائیل عَلَیْہِ السَّلَام فرعون ته د هغه دستخط شوے هغه جواب اوښودلو او بیا هغه په نیل دریاب کښې غرق شو۔

(تفسیر صاوی، پ 11، یونس، تحت الآیة: 90، 891/3 ملخصا)

مفسرینِ کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم فرمائي: الله پاک فرعون د مړ شوي غوئي په شان د دریاب په غاړه باندې اوغورځولو د پاره د دې چې هغه د ژوندي پاتې شوؤ بني اسرائيلو او د نورو خلقو د پاره د عبرت نخښه جوړه شي او په هغوئي باندې دا خبره واضحه شي چې کوم کَس ظالم وي او د الله پاک په بارګاه کښې تکبر کوي هغه دغه شان راګیرولے شي چې هغه د ذِلت او رسوائيئ ګندې ته غورځولے شي۔

(الزواجر عن اقتراف الکبائر، 71/1)

## د 400 کالو نه د زیات عمر والا بادشاه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د مِصر د بادشاهانو لقب به فرعون وو۔ د حضرت سیدنا موسیٰ کلیمُ الله عَلَیْہِ السَّلَام د زماني د فرعون نوم "وَلید بن مُصعَب بن رَیّان" وو، دا بدبخته ډیر ظالم او سرکشه وو او خپل ځان ته به ئي خدائے وئیلو، د هغه عمر د 400 کالو نه زیات وو۔ (تفسیر صراط الجنان، پ 1، البقرة، تحت الآیة: 49، 122/1 ملخصاً) وئیلے شي: چې فرعون به تهوله ورځ د خدائیئ دعویٰ کوله او د شپې به په دُعا او زاریٔ (یعني د الله پاک په بارګاه

کښېږي به په ژړا) کښېږي مشغول اوسيدو په دې وجه د هغه رُعب او دبدبه او سلطنت او حکومت د (ډېرې) مودې پورې قائم وو-

(فضائل دعا، ص 104 ملخصا)

## د فرعون محرومي

حضرت بي بي آسيه رَضِیَ اللهُ عَنْہا (کومه چې د فرعون بي بي وه) کله چې ئې په درياب کښې اوبو اخستے يو صندوق اوليدو او په هغې کښې ئې د سپوږمۍ په شان د پړقيدونکي مخ والا په ماشوم نظر پريوتو کوم چې حضرت موسیٰ کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام وو نو فرعون ته ئې اوونيل:

قُرَّتُ عَيْنٍ لِّيْ وَلَكَ ؕ لَا تَقْتُلُوْهُ ۖ

(پ 20، القصص:9)

"ترجَمهٔ کنزُ العرفان: دا ماشوم زما او ستا د سترګو يخ والے دے دا مه وَژنه-"

نو فرعون اوونيل: ستا د پاره به يخ والے وي، ماته د دې هيڅ ضرورت نشته- (الکامل فی التاریخ ، 132/1) د الله پاک آخِري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: په الله پاک مې دې قسم وي! که چرې فرعون هم د دې خبرې اقرار کړے وے چې دا ماشوم زما هم د سترګو يخ والے دے لکه څنګه چې حضرت بي بي آسيه (رَضِیَ اللهُ عَنْہا) د خپل ځان د پاره اوفرمائيل نو الله پاک به ضرور هغه له هدايت ورکړے وو لکه څنګه چې ئې حضرت آسيه (رَضِیَ اللهُ عَنْہا) ته هدايت عطا کړلو-

(سنن الکبریٰ للنسائی، 397/6، حدیث: 11326)

## تهول مِصر ئي غلام له ورکړو

خليفه هارونُ الرشيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کله د 25 سيپارې د سورة الزُّخرُف، آيت نمبر: 51 تلاوت اوکړو:

وَنَادٰى فِرْعَوْنُ فِيْ قَوْمِهٖ قَالَ يٰقَوْمِ اَلَيْسَ لِيْ مُلْكُ مِصْرَ وَهٰذِهِ الْاَنْهٰرُ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِيْ ۚ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ﴿۵۱﴾

ترجَمۂ کنزُ العرفان: او فرعون په خپل قوم کښې اعلان اوکړو او اوئې وئيل: اے زما قومه! آيا د مصر بادشاهي زما د پاره نه ده او دا نهرونه کوم چې زما د لاندې بهيږي؟ نو آيا تاسو نه وينئ؟

نو د مصر په حکومت باندې ئې د فرعون حکومت ياد کړو او اوئې فرمائيل: زه به هغه ”مصر“ خپل يو وړوکي شان غلام له ورکړم، هم دغسې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مِصر ملک خپل غلام ”خصيب“ له ورکړو کوم چې به هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته د اوداسه اوبه ور اچولې- (تفسير نسفی، پ 25، الزخرف، تحت الآية: 51، ص 1103) د الله رَبُّ العزّت دې په هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د فِرعون د خدائيئ د دعوې کولو يوه وجه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! آيا تاسو ته معلومه ده چې فرعون د

خدائيئ دعوىٰ ولې اوکړه؟ نقل دي چې فرعون په خپل 400 کاله عمر کښې 320 کلونه په دې آرام سره تير کړي وو چې په دې موده کښې په هغه باندې کله هم درد يا تبه يا لوږه نه وه راغلې۔

(تفسير خزائن العرفان، پ 9 ، الاعراف، تحت الآية: 130، ص 312)

"په احياء العلوم" کښې دي يو بزرګ رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: "د فرعون د خدائيئ د دعوې کولو يوه وجه دا وه چې هغه تر ډيرې مودې پورې روغ جوړ وو چې 400 کاله تير شول خو د هغه په سر نه درد راغلے نه ئې کله تَبه شوه او نه ئې چرته په يو رَګ کښې تکليف شو، که چرې د هغه يوه ورځ په نيم سر هم درد شوے وے نو د خدائيئ دعوىٰ خو غټه خبره ده، فضول کارونه به ئې هم پريښودي وو۔

(احياء العلوم ، 357/4)

## د الله پاک د پټ تدبير نه غافِله کَس

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! واقعي ده چې د صحت نعمت او د دولت زياتوالے ډير خلق په ګناهونو کښې اخته کوي۔ ځکه چې څوک ډير جانداره يا مالداره يا د اقتدار مالک دے هغه ته د عَلِيم او خَبِير خدائے د پټ تدبير نه د ويريدو ډير زيات ضرورت دے۔ لکه څنګه چې عظيم تابعي بُزرګ حضرت حسن بصري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: په کوم کَس باندې چې الله پاک په دُنيا کښې (د رزق د زياتوالي، د فرمانبرداره اولاد د نعمت، د مال او دولت، د ښه صحت، مقام، واک، د وزارت د مقام يا د صدارت يا د

حکومت وغیره په ذریعه) فراخي اوکړي خو د هغه سره دا ویره نه وي چې چرته دا سهولتونه خو به د الله پاک پټ تدبیر نه وي، داسې ګس د الله پاک د پټ تدبیر نه غافِله دے۔

(تنبیه المغترین ، ص 128)

دولتیں ایسی نعمتیں اتنی
بے غرض تُو نے کیں عطا یارب

دے کے لیتے نہیں کریم کبھی
جو دِیا جس کو دے دِیا یارب

تو کریم اور کریم بھی ایسا
کہ نہیں جس کا دُوسرا یارب

ظن نہیں بلکہ ہے یقین مجھے
وہ بھی تیرا دِیا ہوا یارب

ہو گا دنیا میں قبر و محشر میں
مجھ سے اچھا معاملہ یارب

(ذوقِ نعت، ص 85)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! بعضې خلق هر یو ته بغیر د څه وجې د خپلې بیمارۍ په باره کښې وائي بلکه اوس خو د سوشل میډیا دور دے، په هسپتال کښې د داخلیدو یا د مختلف قِسمه علاج تصویر وائرل کوي، حالانکه تر خپله وسه پورې خپل مرض پټول ډیر د ثواب کار دے۔ خو څوګل تولې دنیا ته د خپلې بیمارۍ په باره کښې د وئیلو والا یا د دعا کولو د ټولو مرضونو د شِفا ورکولو والا "شَافِیُ الْاَمْرَاض" الله پاک په بارګاه کښې د رغیدو سوال ولې نه کوي؟

## د مصيبت په وخت الله پاک ته رجوع کوئ

په حديثِ قُدسي کښې دي: الله پاک فرمائي چې کله زما څوک بنده په مصيبت کښې زما نه سوال کوي زه هغه له د غوښتلو نه مخکښې عطا کووم او د هغه دُعا قبلووم، او کوم بنده چې د مصيبت په وخت ما پريږدي او زما د مخلوق نه مدد غواړي زه په هغه باندې د آسمانونو دروازې بندې کړم-

(مکاشفة القلوب، ص 14)

زباں پر شکوۂ رنج واَلَم لایا نہیں کرتے
نبی کے نام لیوا غم سے گھبرایا نہیں کرتے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په ازغي تللو باندې هم اجر

حضرت ابو سعيد خُدري او حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا د نبيِ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه روايت کوي چې "مسلمان ته په ستړي کيدو، بيمارۍ، غم، تکليف وغيره تر دې پورې چې ازغے ئې هم اوچيچي نو الله پاک د دې په بدله د هغه ګناهونه ختموي-"

(بخاری،3/4، حديث:5441)

د فَتحُ البارِي په شرح بخاري کښې دي: اِمَام قَرَافِي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: "يقيناً رنځ او درد د ګناهونو کفاره ده، که د دې سره د بنده رضا ميلاؤ

وي او که نه- خو په مصيبتونو د رضا کيدلو په شکل کښې دا مصيبتونه د غټو غټو ګناهونو کفاره جوړيږي ولې بغير د رضا نه د کمو ګناهونو کفاره [جوړيږي]- تحقيق دا دے چې مصيبت څومره غټ وي هغه همره به د غټو ګناهونو کفاره وي که چرې بنده په مصيبت باندې رضا شي نو په دې باندې به هم هغه ته (بيل) اجر ورکولے شي- که چرې په غم څپلي څه ګناه نه وي نو هغه ته به د دې په بدله کښې دومره ثواب ورکولے شي-

(فتح الباري، 90/11، تحت الحديث: 5641)

حضرت آنس بن مالک رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د يوې وَنې خوا له تشريف راوړلو او هغه ئې اوخوزوله تر دې پورې چې د هغې نه دومره پاڼې راپريوتلې څومره چې الله پاک غوښتلې. بيا ئې اوفرمائيل: تکليفونه او مصيبتونه زما د دې وَنې د پاڼو د راغورځولو نه هم په تيزۍ سره د انسان ګناهونه رَژوي.

(شعب الايمان، ١٦٦/٧، حديث: ٩٨٦٤)

فيضانِ مدينه، محلّه سوداګران، زړه سبزي منډهي کراچۍ
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com